هفته واره رساله




# اربعین عطّار
## (قسط:4)

د امیرِ اهلسنّت په قلم مبارک لیکلے شوي
40 حدیثونه مبارک

شیخ طریقت امیر اهلِ سنت بانیِ دعوت اسلامي حضرت علامه مولانا ابو بلال
محمد الیاس عطار قادري رضوي دامت برکاتہم العالیہ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

﴿1﴾

## افضل عبادت

قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ اَفْضَلُ الْعِبَادَةِ اَلْفِقْهُ

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:
" افضل عبادت د دِين مسائل زده کول دي-" (نوادر الاصول، 169/1، حديث:111)

**د حديث شرح:** ټول علمونه خو زده کول ممکن نهٔ دي،د دې وجې نه د اهم علمونو زده کولو طرفته توجه کول او پهٔ هغې کښې چې کوم افضل وي هغه حاصلول پکار دي- او هغه " د فقهې عِلم " دے، ځکه چې د دې د حاصلولو سره خلق هدايت مومي او د دې د معلوماتو نهٔ لرلو پهٔ وجه گمراه کيږي ولې چې هُم عِلم اِنسان عبادت او د هغې فضيلت ته راغب کوي، او عبادت کوونکي ته که چرې مسائل معلوم نهٔ وي د کومو د وجې نه چې عبادت صحيح کيږي يا غلطيږي، نو کېدے شي چې هغه د سره نه هډو عبادت پاتې نهٔ شي- (ځکه د عبادت پهٔ باره کښې دې ضروري مسائل زده کړے شي-)

(فيض القدير، 648/3، تحت الحديث:4068 بتغير قليل)

www.dawateislami.net

﴿2﴾

## پهٔ حرامو لوئېدونکے

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ جَسَدٌ غُذِّيَ بِحَرَامٍ

د اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: ”د کوم وجود چي پهٔ حرامو باندې پالنه شوي وي هغه به جَنَّت ته نهٔ داخِلېږي-“

(مسند بزار، 1/105، حديث: 43، مسندِابی یعلیٰ، 1/57، حديث: 79)

اِمامِ ذهبي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديث لاندې فرمائي: ډاکو، غل، ټوقمار، خيانت کوونکے، پهٔ ناپ تول کښې کمے کوونکے، د عيب دار څيز بغېر د عيب ظاهرولو نه خرخوونکے، جواري کوونکے دا ټول د دې حديثِ پاک پهٔ وَعيد کښې شامل دي- (الکبائر للذهبی، ص136)

﴿3﴾

## د جومات سره محبت

قَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَ سَلَّمَ مَنْ أَلِفَ الْمَسْجِدَ أَلِفَهُ اللهُ

د اخري نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: ”ثوک چې د جومات سره محبت کوي الله پاک هغه خپل محبوب جوړوي۔“

(معجم اوسط، 400/4، حديث:6383)

د الله پاک د راضي کولو د پاره چې کوم کَس هم (پۀ جومات کښې) د اِعتکاف، د نـمونځ، د الله پاک د ذِکر یا د دِین د خبرو زده کولو پۀ نیت د کېناستو عادت لري نو الله پاک هغۀ ته د خپل رحمت سورے او پۀ خپل خاص حفاظت کښې پناه عطا کوي۔ (فیض القدیر، 112/6، تحت الحدیث:8524)

﴿4﴾

## پهٔ هغهٔ رحم نهٔ کيږي

د اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: ”**مَنْ لَّا یَرْحَمُ لَا یُرْحَمُ** يعنې: څوک چې رَحم نهٔ کوي پهٔ هغهٔ باندې رَحم نهٔ کيږي-“

(بخاری، 103/4، حدیث:6013، 100/4، حدیث: 5997)

**د حديث شرح:** د چا پهٔ زړهٔ کښې چې رحم نهٔ وي پهٔ هغهٔ باندې اللّٰه پاک هم رحم نهٔ کوي- (مِرآۃالمناجیح، 355/6)

﴿5﴾

# د مریض دُعا نهٔ رد کیږي

قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تُرَدُّ دَعْوَةُ الْمَرِيْضِ حَتّٰى يَبْرَأَ»

د اخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: "مریض چې د ښو پورې روغ شوے نهٔ وي د هغهٔ دُعا نهٔ رد کیږي- (یعنې چې پوره روغ شي یا وفات شي) (مرقاة المفاتيح، 31/5، تحت الحديث:2660)

(موسوعه ابن ابی دنیا، 243/4، کتاب المرض والکفارات، حدیث:70)

﴾6﴿

## د شیطان نه د حفاظت دُعا

**اِذَا اَخَذَ اَحَدُکُمْ مَضْجَعَهُ مِنَ اللَّیْلِ فَلْیَقُلْ:**

**بِسْمِ اللّٰهِ اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطَانِ الرَّجِیْمِ.**

د اخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: " څوک چې د شپې خپلې بسترې ته ځي نو دا دې وائي: **بِسْمِ اللّٰهِ اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ** "

(معجم کبیر، 2/176، حدیث: 1722)

﴾7﴿

## ټول کال سلامتيا

**قَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّى اللّٰہُ عَلَيْہِ وَ سَلَّمَ : اِذَا سَلِمَ رَمَضَانُ سَلِمَتِ السَّنَةُ**

د اخري نبي صَلَّى اللّٰہُ عَلَيْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: " د چا رمضان چې په سلامتيا سره تيرېږي نو د هغۀ ټول کال به په سلامتيا سره تيرېږي-"

(شعب الايمان، 340/3، حديث: 3708)

**د حديث شرح:** يعني د چا د روژې مياشت چې د ګناهونو نه په بچ کېدو تيره شوه، د هغۀ ټول کال به (د ګناهونو ) د ګرفت نه محفوظه وي- ځکه چې الله پاک د هر قوم د پاره يوه داسې ورځ جوړه کړې ده په کومه کښې چې هغوئي د الله پاک د عبادت د پاره فارغ وي بس د جُمعې ورځ زمونږ د عبادت ورځ ده لکه څنګه چې د رَمَضَانُ الْمُبَارَک مياشت په نورو مياشتو کښې د عبادت مياشت ده او په جُمعةُ المبارکه کښې د دُعا د قبلېدو وخت دے لکه څنګه چې په رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې د ليلةُ القدر شپه د دُعا د قبلېدو وخت دے لهذا چې څوک د جُمعې په ورځ د ګناهونو نه بچ شو نو هغه به په ټولو ورځو کښې د ګناهونو نه محفوظ وي او څوک چې په رَمَضَانُ الْمُبَارَک کښې د ګناهونو نه بچ شو نو هغه به ټول کال د ګناهونو نه محفوظه وي-

(التيسير بشرح الجامع الصغير ، 106/1)

﴿8﴾

## پهٔ مسجدِ قبا کښې نـمونځ

**اَلصَّلَاةُ فِی مَسْجِدِ قُبَاءٍ كَعُمْرَةٍ**

د اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: "پهٔ مسجدِ قُبا کښې نـمونځ کول "د یوې عمرې" د (ثواب) برابر دے-"

(ترمذی، 348/1، حدیث:324)

﴿9﴾

## د پرېشانو لرې کولو نُسخه

مَنْ اَحَبَّ اَنْ يَسْمَعَ اللهُ عَزَّوَجَلَّ دَعْوَتَهُ وَيُفَرِّجَ كُرْبَتَهُ فِى الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ فَلْيُنْظِرْ مُعْسِرًا وَلْيَدَعْ لَهُ. وَمَنْ سَرَّهُ اَنْ يُّظِلَّهُ اللهُ عَزَّوَجَلَّ مِنْ فَوْرِ جَهَنَّمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَيَجْعَلَهُ فِىْ ظِلِّهِ فَلَا يَكُوْنَنَّ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ غَلِيْظاً وَلْيَكُنْ بِهِمْ رَحِيْماً

د اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: "څوک چې غواړې چې الله پاک د هغهٔ دُعا قبوله کړي او د دُنيا او د اخرت پرېشانۍ يې ختمې کړي نو هغه دې د تنګدسته خيال وساتي يا دې د هغهٔ مدد کوي او څوک چې غواړي چې الله پاک د قيامت پهٔ ورځ هغه د دوزخ د وور نه بچ کړي او د خپل رحمت پهٔ سوري کښې ځائے ورکړي نو هغه دې پهٔ مسلمانانو باندې سختي نهٔ کوي بلکې د نرمۍ سلوک دې کوي-

(شعب الايمان، 537/7، حديث:11260 حلية الاولياء، 148/5، حديث:6646)

**د حديث شرح:** کوم اِنسان چې دا غواړي چې د هغهٔ دُعا دې قبوله کړے شي او د هغهٔ پرېشانۍ دې ختمې کړے شي، نو هغهٔ له پکار دي چې هغه تنګدسته قرضداري له مهلت ورکړي، يا د هغهٔ قرض ادا کړي يا قرض معاف کړي او يا د هغهٔ سفارش اوکړي، يا د قرض پهٔ غوښتو کښې د تاخير

کولو سره پهٔ هغهٔ اسانتیا وکړي او پهٔ دې روایت کښې د تنګدسته قرضداري د پاره د اسانۍ پیدا کولو عظیم الشان فضیلت، د دې د رغبت ورکولو او پهٔ دې باندې د راپارولو چې کوم بیان دے هغه د چا نه پټ نهٔ دے۔" (فیض القدیر، 6/66، تحت الحدیث:8390)

﴿10﴾

## رښتیا وئیل نجات ورکوي

د اخري نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: اِنَّ الصِّدْقَ یُنْجِیْ-

ترجمه: بے شکه رښتیا وئیل نجات ورکوي- (جامع الصغیر، ص257، حدیث:4212)

د حدیث شرح: یعنې پۀ رښتیاؤ کښې خلاصے دے اګر که اِنسان دا ګمان کوي چې پۀ دې کښې هلاکت (یعنې نقصان) دے لهذا چې کله تاسو د یو خیز پۀ باره کښې پۀ شک او شبه کښې پریوځئ نو هغه پرېږدئ، ځکه چې کامِل مؤمِن پۀ هغه رښتیاؤ باندې مطمئین کیږي پۀ کومو کښې چې د هلاکتونو نه نجات وي او د دروغو نه کرکه شروع کوي-

(فیض القدیر، 706705/3، تحت الحدیث:4212)

﴿11﴾

## د روزګار د تکليفونو يو سبب

قَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَ سَلَّمَ «اِنَّ مِنَ الذُّنُوْبِ ذَنُوْبًا لَا تُکَفِّرُھَا الصَّلَاۃُ وَلَا الصِّیَامُ وَلَا الْحَجُّ وَلَا الْعُمْرَۃُ» قَالُوْا: فَمَا یُکَفِّرُھَا یَا رَسُوْلَ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَ سَلَّمَ قَالَ: «اَلْھُمُوْمُ فِیْ طَلَبِ الْمَعِیْشَۃِ»

د اخري نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: " پهٔ ګناهونو کښې ځينې ګناهونه داسې وي کوم چې نهٔ نمونځ ختمولے شي نهٔ روژهٔ نهٔ حج او نهٔ عمره ،صحابه کرامو رضي الله عنهم عرض وکړو:يارسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم نو څهٔ شے يې ختمولے شي؟هغوي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: د رزق پهٔ حاصلولو کښې رسېدونکے غم يې ختمولے شي-" (معجم اوسط، 42/1، حديث: 102)

د حديث شرح: يعنې ځينې ګناهونه داسې دي کوم چې نهٔ خو فرض او نفلي نمونځونه ختمولے شي او نهٔ فرض او نفلي روژې او نهٔ يې حج او عمره ختمولے شي او د زکوٰة ذِکر دې د پاره اونکړے شو چې څهٔ عرض وکړے شو بيا دغه ګناهونه څهٔ څيز ختمولے شي؟ نو نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: هغه د حلال رزق پهٔ لټون کښې رسېدونکے غم ختموي-

﴿12﴾

## د اِیمان حقیقت موندونکے څوک؟

قَالَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَ سَلَّمَ: لِکُلِّ شَیۡءٍ حَقِیۡقَۃٌ، وَمَا بَلَغَ عَبۡدٌ حَقِیۡقَۃَ الۡاِیۡمَانِ حَتّٰی یَعۡلَمَ اَنَّ مَا اَصَابَہٗ لَمۡ یَکُنۡ لِیُخۡطِئَہٗ، وَمَا اَخۡطَأَہٗ لَمۡ یَکُنۡ لِیُصِیۡبَہٗ

د اخري نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: اِنسان د هغه وخته پورې د اِیمان حقیقت نشي موندلے تر څو پورې چې هغه په دې پوهه نشي چې څۀ په هغۀ تېر شوي هغه هم د تېرېدو د پاره وو-“

(مسند امام احمد، 45/482، حدیث:27490)

**د حدیث شرح:** د هر څیز یو حقیقت یعنې اصل دے، او اِنسان د اِیمان حقیقت ته د هغه وخته پورې نشي رسېدے تر څو پورې چې د دې خبرې یقیني عِلم حاصل نۀ کړي چې په تقدیر کښې چې څۀ هغۀ ته مېلاؤ شول هغه د دې نه نۀ شو محرومه کېدے- ځکه چې په ازل کښې چې څۀ د دۀ په تقدیر کښې ولیکلے شول، هغه به دۀ ته ضرور مېلاؤېږي، او په دې کښې هیڅ هم د دۀ نه علاوه بل چا ته نشي مېلاؤېدے او په تقدیر کښې چې څۀ هغه ته مېلاؤ نۀ شول، هغۀ دۀ هیڅ کله هم نشي میلاویدے که دے د هغې د موندلو د پاره هر څومره کوشش هم وکړې، ځکه چې دا ظاهر شول چې هغه د دۀ په قِسمت کښې نۀ وو، او دۀ ته هم هغه مېلاؤېږي کوم چې د دۀ په قِسمت کښې لیکلے شوي دي- (فیض القدیر، 2/646647، تحت الحدیث:2417)

﴿13﴾

## د خوښې څيز په بل باندې د خوړلو ثواب

قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

مَنْ اَطْعَمَ اَخَاهُ الْمُسْلِمَ شَهْوَتَهُ حَرَّمَهُ اللّٰهُ عَلَی النَّارِ

د اخري نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: " څوک چې په خپل مسلمان ورور باندې د هغهٔ د خواهش[خوښې] څيز وخوري الله به هغه په دوزخ باندې حرام کړي-" (شعب الايمان للبيهقي، 222/3، حديث: 3382)

د حديث شرح: د دې نه مُراد همېشه پاتې کېدونکے هغه وور دے کوم چې د کافرانو د پاره تيار کړے شوے دے، ځکه چې داسې حديثونه موجود دي کوم چې په دې خبره باندې دليل دي چې د ګنهګارانو يوې ډلې له به (هم) عذاب ورکولے شي-" (فيض القدير، 92/6، تحت الحديث:8465)

﴿14﴾

## پهٔ عِلم باندي د عمل نهٔ کوونکو د پاره هلاکت

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ وَيْلٌ لِمَنْ لَا يَعْلَمُ، وَوَيْلٌ لِمَنْ عَلِمَ ثُمَّ لَا يَعْمَلُ

د اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: "د هٔغه گس د پاره هلاکت دے کوم چې عِلم حاصل نهٔ کړي او د هغهٔ د پاره هم هلاکت دے کوم چې عِلم حاصل کړي او پهٔ هغې باندې عمل اونکړي-"

(حلية الاولياء، 119/4، حديث:4967، كنز العمال، 86/5، حديث: 29036)

**د حديث شرح:** نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا خبره (يعنې----) درې کرته اِرشاد کړله- څوک چې دې د پاره پهٔ عِلم کښې مشغول وي چې د هغې پهٔ ذريعه د عالمانو پهٔ محفل کښې ځائے جوړ کړي، او د خپلې زمانې او پهٔ خپلو هم سنګو باندې برے حاصل کړي، يا پهٔ شاهي دربارونو کښې خپله مرتبه اوچته کړي او د عِلم پهٔ ذريعه (د حکمرانانو) چندو، وظيفو او د اوقافو عهدو وغيره ته ورسيږي، نو د دې نه جهالت بهتر دے ځکه چې شيطان هغه بے لارې کړے دے او هغه د هغهٔ د (جنتي) مقام او د واپس ورګرځېدو د ځائے (يعنې د قيامت د ورځې د حساب) نه يې غافله کړے دے-

(فيض القدير، 480479/6، تحت الحديث:9656)

﴿15﴾

## د بچي د ښه تربيت کولو ثواب

قَالَتْ عَائِشَةُ: سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ: «مَنْ رَبَّى صَغِيْرًا حَتَّى يَقُوْلَ: لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ لَمْ يُحَاسِبْهُ اللهُ عَزَّوَجَلَّ»

اُمُّ المُؤمِنِين بي بي عائِشه رَضِیَ اللهُ عَنۡها روايت کوي چې د رسولِ کريم صَلَّی اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! فرمانِ عاليشان دے: ” چا چې د خپل يو بچي پالنه اوکړه د دې پورې چې هغه لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ ووائي نو رَبِّ کريم به د هغهٔ د تربيت کوونکي سره حساب نهٔ کوي-“ (مُعجمِ اَوسط، 3/370، حديث: 4865)

د حديث شرح: صغير (يعنې ماشوم) لفظ د خپل اولاد، د نورو د اولاد، د يتيم او د غېر يتيم ټولو د پاره دے او دا پهٔ دې وجه چې هر ماشوم د اِسلام پهٔ فِطرت باندې پېدا کيږي لکه څنګه چې پهٔ حديثِ پاک کښې راغلي دي لهذا چې چا د ماشوم تربيت پهٔ اصلي فطرت (يعنې د اِسلام) مطابق اوکړو د دې پورې چې هغه هوښيار شو او د اِيمان ګواهي يې ورکړه، نو هغه به مطلقاً بغېر د حساب نه جنت ته داخلولے شي او دا اِحتمال (يعنې شک) هم دے چې ” بغېر د حساب “ نه پهٔ حساب کښې اساني مُراد وي-

(فيض القدير، 6/175174، تحت الحديث: 8696)

﴿16﴾

## د ظالِم د مدد کولو نقصان

قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ «مَنْ اَعَانَ ظَالِمًا عَلٰى ظُلْمِهٖ جَاءَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، وَعَلٰى وَجْهِهٖ مَكْتُوْبٌ آيِسٌ مِنْ رَحْمَةِ اللّٰهِ»

د اخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې د يو ظالِم د هغۀ پۀ ظُلم باندې مدد اوکړي، هغه به د قيامت پۀ ورځ پۀ داسې حال کښې راځي چې د هغۀ پۀ تندي باندې به ليکلے شوي وي: آيِسٌ مِّنْ رَّحْمَةِ اللّٰهِ يعنې "دے د اللّٰه پاک د رحمت نه نااميده دے-" (مسند الفردوس، 297/2، حديث: 6232)

د حديث شرح: يعنې اللّٰه پاک به هغه د قيامت پۀ ورځ د ټول مخلوق پۀ مخکښې د هغۀ د دواړو سترګو ترمينځه پۀ ليکلے شوې خطرناکه نخښه باندې ذليله او رسوا کوي، (د ظالِم د ظلم پۀ وعيدونو کښې) د دې روايت نه ډير سخت وعيد نۀ دے ليدلے شوے-

(شرح الطيبى على المشكاة، 80/7، تحت الحديث: 3484)

﴿17﴾

## ښه دوست څوک؟

قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَ سَلَّمَ «اَلَا اُخْبِرُكُمْ بِخَيْرِ جُلَسَائِكُمْ مَنْ ذَكَّرَكُمُ اللهَ رُؤْيَتُهُ، وَزَادَكُمْ فِي عِلْمِكُمْ مَنْطِقُهُ، وَذَكَّرَكُمْ فِي الْآخِرَةِ عَمَلُهُ»

د اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: ښه ملګرے هغه دے چې د هغۀ په ليدو تا ته خُدائے رایاد شي او د هغۀ په خبرو ستا په عمل کښې زیاتوالے وشي او د هغۀ عمل تا ته اِخرت رایاد کړي-"

(موسوعة ابن ابی دنیا، کتاب الاولیاء، 2/393، حدیث:25)

**د حديث شرح:** بے شکه چې کله اِنسان په الله والؤ کښې څوک ويني نو هغۀ ته اخرت وریادېږي او هغه د مرګ نه پس (د ژوند) د پاره عمل کوي ځکه با عمله عالمانو او ربنتینو اولیائے کرامو رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡهِم ته کتل يو بهترين عِلاج دے- کله چې اِنسان په دوئي کښې د چا عمل ته ګوري نو د خپل بصيرت په ذريعه د هغۀ د اخرت بهترين کوشش او د هغۀ د الله پاک د نعتمونو په حقدار جوړېدو پوهېږي نو د هغۀ په زړۀ کښې د هُغه (نیک اِنسان) محبت پيدا کيږي بيا هغه د هُغه (نیک اِنسان) د نیک کارونو په شان نیکۍ شروع کوي نو هغه هم په فلاح موندونکو (يعنې په کامیاب شوو) کښې

شامليږي- دې وجې نه د نېکانو خلقو د صحبت حاصلولو ترغيب ورکړے شوے دے ځکه دا هغه نېکانې هستيانې دي چې د دوئي سره کېناستونکے هم بد بخته نۀ پاتې کيږي- (فيض القدير، 647/3، تحت الحديث:4063)

﴿18﴾

## پهٔ ډډه وهلو سره خوراک کول

د اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: لَا اٰكُلُ مُتَّكِئًا يعنې زهٔ پهٔ ډډه وهلو سره خوراک نهٔ کووم- (صحیح بخاری، 528/3، حدیث:5398)

د حديث شرح: دا احتمال هم شته چې پهٔ دې حديثِ پاک کښې "الاتکاء (د ډډې وهلو)" نه مُراد دا وي چې: اِنسان خپله ملا د څهٔ څيز سره ولګوي يا خپل يو لاس پهٔ زمکه باندې کېږدي او پهٔ هغې ځان راټينګ کړي يا پهٔ زمکه باندې پهٔ ډډه وهلو بالکل نيغ کښېني- د خوراک پهٔ وخت دا ټولې طريقې منع دي، ځکه چې پهٔ دې کښې تکبر موندلے کېږي-

(مرقاۃ المفاتیح شرح المصابیح، 502/4، تحت الحدیث:3197)

﴿19﴾

## د نورو د پاره حلال نۀ دي

لَايَحِلُّ مَالُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ اِلَّا بِطِيْبِ نَفْسٍ مِنْهُ

د اخري نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: " یعنې د یو مسلمان مال د هغۀ د زړۀ د رضا نه بغیر د بل کس د پاره حلال نۀ دے-"

(مسند ابی یعلی، 2/91، حدیث:1567)

**د حدیث شرح:** دا فرمانِ عالي شان د دې خبرې دلیل دے چې د نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حکم صرف د رحمدلۍ او د مدد پۀ توګه دے، نۀ د مباح (یعنې جائز) کولو د پاره چې ګنې څوک دې د خپل دوست مال وخوري او د هغه پۀ ملکیت کښې مداخلت کوي-

(اعلام الحدیث شرح صحیح البخاری، 2/1229، تحت الحدیث:2463، جامعه ام القری مکة المکرمه 1429ھ)

www.dawateislami.net

﴿20﴾

## نابیناؤ د پاره زیرے

قَالَ رَسُولُ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیہِ وَسَلَّم: مَا ابْتُلِیَ عَبد بَعْدَ ذَهَابِ دِینِهِ بِأَشَدَّ مِنْ بَصَرِهِ، وَمَنْ ابْتُلِیَ بِبَصَرِهِ فَصَبَرَ حَتّٰی یَلْقَی اللّٰهَ لَقِیَ اللّٰهَ تَبَارَكَ وَتَعَالٰی، ولاَحِسَابَ عَلَیْهِ.

د اخري نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: "د دِین د تللو نه پس د تېرلو نه لوئي ازمېښت پۀ کوم کښې چې اِنسان اخته کړے شي هغه بینائي (یعنې د نظر تلل) دي بس چا چې صبر اوکړو د دې پورې چې پۀ دغه حالت کښې یــې د الله پاک سره د ملاقات سعادت حاصل کړو نو پۀ هغۀ باندې به هیڅ حساب نۀ وي- (مسند بزار، 244/10، حدیث:4342)

اِنَّ فَقْدَ اِحْدَی الْعَیْنَیْنِ فِیْهِ الْجَنَّةُ

حضرت علامه علي قاري رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: پۀ ځینو روایتونو کښې د یوې سترګې د بینایۍ پۀ ختمېدو هم دا فضیلت راغلے دے-)

(مرقاة المفاتیح، 28/4، تحت الحدیث:1549)

دا هم وئیلے شوي دي چې د اِنسان پۀ وجود کښې دا (یعنې د یوې سترګې یا د دواړو سترګو نه محرومه کېدل) د تېرلو نه لوئي مصیبت دے وئیلے کیږي چې نابینا ګس د وفات شوي اِنسان پۀ شان پۀ زمکه باندې ګرځي-

﴿21﴾

## روزانه د 5 حجونو ثواب وګټئ

مَنْ خَرَجَ عَلٰی طُهْرٍ لَا یُرِیْدُ اِلَّا مَسْجِدِیْ هٰذَا یُرِیْدُ مَسْجِدَ الْمَدِیْنَةِ

لِیُصَلِّیَ فِیْهِ کَانَ بِمَنْزِلَةِ حَجَّةٍ

د اخري نبي صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: "کوم ګس چې اودس اوکړي او زما جومات ته د نـمونځ کولو پۀ اراده راووځي دا د هغۀ د پاره د يو حج برابر دے-"

(تاریخ بخاری، 379/8، دائرة المعارف العثمانیه حیدر آباد هند) (شعب الایمان، 499/3، حدیث: 4191)

﴾22﴿

## انما بعثت معلما

د اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: **انما بعثت معلما** يعنې زۀ مُعَلِّم (يعنې تعليم ورکوونکے) راليږلے شوے يم- (ابن ماجه، 150/1، حديث:229)

**د حديث شرح:** رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم صرف د الله پاک پۀ ښودنې سره مُعلم دے نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مخلوق نه زده کړه نۀ ده کړې، پۀ دې وجه هغوئي هم دا کافي وګڼله- (شرح سنن ابن ماجه للسيوطی، 21/1)

﴿23﴾

## د فرضو نه پس افضل عمل

قَالَ رَسُوْلُ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ: اِنَّ اَحَبَّ الْاَعْمَالِ اِلَی اللّٰہِ بَعْدَ الْفَرَائِضِ اِدْخَالُ السُّرُوْرِ عَلَی الْمُسْلِمِ

د اخري نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: "د الله پاک پۀ نزد د فرضو د ادا کولو نه پس د ټولو نه افضل عمل د مسلمان زړۀ ته خوشحالي ورداخلول دي-" (معجم کبير، 59/11، حديث:11079)

د حديث شرح: دغه شان تاسو هر هغه کار کوئ (د کوم چې شريعت اِجازت ورکړي د پاره د دې چې د مسلمان زړۀ خوشحاله شي، لکه د نِعمت پۀ حاصلېدو يا د څۀ مصيبت پۀ لرې کېدو يا د چا پۀ غم لرې کېدو، يا د چا بے آسرې پۀ مدد کولو يا داسې قِسمه پۀ څۀ بله خوشحالۍ رسولو زيرے ورکړې)

(فيض القدير شرح الجامع الصغير، 216/1، تحت الحديث:200)

﴿24﴾

## پهٔ لاس مېلاوهلو کښې د وړومبي والي کولو ثواب

قَالَ: رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «فَإِذَا تَصَافَحَا نَزَلَتْ عَلَيْهِمَا مِائَةُ رَحْمَةٍ، لِلْبَادِئِ مِنْهُمَا تِسْعُوْنَ وَلِلْمُصَافِحِ عَشَرَةٌ»

د اخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: "دوه مسلمانان چې کله لاس مېلاوهي نو د الله پاک پرې 100 رحمتونه نازلېږي، 90 رحمتونه پهٔ لاس مېلاوهلو کښې پهٔ شروع کوونکي او 10 پهٔ دوېم باندې-"

(مسند بزار، 437/1، حدیث:308)

د حدیث شرح: ولې چې پهٔ مؤمِن باندې د اِیمان علامت او عزت او د اِسلام رڼا او ښکلا وي- بس چې پهٔ دې دواړو کښې څوک څومره پهٔ ښو اخلاقو کښې بهتر وي، هغه به د ایمان پهٔ وقار هُغه همره ډېر پوهېږي- پهٔ دې دواړو کښې چې کوم د الله پاک نه څومره ډېر غافله وي، هغه به د الله پاک د هُغه احسانونو نه هم هُغه همره غافله وي کوم چې پهٔ دې دواړو باندې شوي دي- او د دې وجې نه هم چې مؤمِن د خپل رب د طرف نه د شوق پهٔ وجه د هغهٔ سره د ملاقات د پاره تکے وي، نو کله چې هغه څوک مؤمِن ويني، نو د هغه روح (د خپل رب د ملاقات د پاره) تر او تازه شي او د هغهٔ زړهٔ د خپل

مولیٰ پهٔ اثارو(یعنې د اِیماني علامتونو) پهٔ راحت سره مُسکے کیږي کوم چې هغه پهٔ (دویم مؤمِن کښې) موندلي دي- بس هغه د خپلې خوشحالیٔ اظهار کوي نو هغه د الله پاک د طرف نه چې د هغهٔ د پاره کومه حصه (یعنې انعام) دے د هغې پهٔ وجه هغه د الله پاک پهٔ دربار کښې ډیر محبوب کیږي-

(فیض القدیر شرح الجامع الصغیر، 387386/1، تحت الحدیث: 486 ملتقطاً)

﴿25﴾

# عیب لګول

قَالَ النَّبِیُّ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ: مَنْ رَمٰی مُسْلِمًا بِشَیْءٍ یُرِیْدُ شَیْنَہُ بِہٖ حَبَسَہُ اللّٰہُ عَلٰی جِسْرِ جَھَنَّمَ حَتّٰی یَخْرُجَ مِمَّا قَالَ.

د اخري نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: ”کوم ګس چې مسلمان ته څۀ خبره اوکړي چې د هغې مقصد عېب لګول وي، الله پاک به هغه پۀ پل صراط باندې ودروي تر څو پورې چې د هُغه څيز نه وه نۀ ووځي کومه چې هغه کړې ده-“ (ابو داؤد، 355/4، حدیث: 4883)

د حديث شرح: چا چې د يو مسلمان د حالاتو جاسوسي اوکړه د پاره د دې چې د هغه عېب ظاهر کړي او هغه وشرموي، نو الله پاک به هغه پۀ پل صراط باندې ودروي تر څو پورې چې هغه خپل مخالف (يعنې د چا جاسوسي چې يې کړې وه هغه) راضي نۀ کړي يا پۀ عذاب موندلو د ګناه نه پاک نۀ شي- (المفاتیح فی شرح المصابیح، 242/5، تحت الحدیث: 3926)

﴿26﴾

## د نېکانو بندګانو د ذِکر کولو فضيلت

د اخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: **ذِكْرُ الصّٰلِحِيْنَ كَفَّارَةٌ**- د نېکانو بندګانو ذِکر (د ګناهونو) کفاره (يعنې ورانونکې) ده- (الغرائب الملتقطة من مسند الفردوس زهر الفردوس، 537/4، حديث:1585، جامع صغير، ص264، حديث: 4331)

**د حديث شرح:** هُغه نېکان خلق کوم چې د الله پاک او د مخلوق حقونه ادا کوونکي وي د هغوئې ذِکر کول د صغيره (يعنې د وړو) ګناهونو ورانوونکي دي-

(فيض القدير، 755/3، تحت الحديث:4331، السراج المنير شرح الجامع الصغير، 169/3)

﴿27﴾

## د خبرو کولو نه مخکښې سلام

د اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: اَلسَّلَامُ قَبْلَ الْكَلَامِ يعنې "سلام د خبرو کولو نه مخکښې دے-" (ترمذی، 14/5، حدیث:2895)

**د حديث شرح:** د هرې خبرې کولو نه مخکښې سلام کول سُنَّت دے او پهٔ دې باندې حديثونه مبارک او د دِين د ټولو بزرګانو رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِم مسلسل عمل مشهور دے-

﴾28﴿

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ فَطَّرَ صَائِمًا عَلَى شَرْبَةٍ مِنْ مَاءٍ سَقَاهُ اللهُ مِنْ حَوْضِي شَرْبَةً لَا يَظْمَأُ حَتَّى يَدْخُلَ الْجَنَّةَ

د اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې په روژه دار اوبۀ وڅښي الله پاک به په هغۀ باندي زما د حوض نه اوبۀ وڅښي چې جَنَّت ته د داخلېدو پورې به نۀ تږے کيږي.

(موسوعه ابن ابی دنیا، فضائل شهر رمضان، 371/1، حدیث:41۔ صحیح ابن خزیمه ، 191/3، حدیث:1787)

﴿29﴾

# د رشوت لېن دېن دوزخ ته بوتلونکے کار دے

عَنۡ عَبۡدِ اللهِ بۡنِ عَمۡرٍو، رضی الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُوۡلُ اللهِ صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَسَلَّمَ: اَلرَّاشِیۡ وَ الۡمُرۡتَشِیۡ فِی النَّارِ۔

د اخري نبي صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: اَلرَّاشِیۡ وَ الۡمُرۡتَشِیۡ فِی النَّارِ "يعنې رشوت اخستونکے او ورکوونکے دوزخيان دي-"

(مسند بزار، 247/3، حدیث:1037)

د حديث شرح: اِمامِ خطابي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ فرمائي: (رشوت ورکوونکے او اخستونکے) دواړو ته به سزا هٔغه وخت مېلاؤېږي کله چې دواړه پهٔ مقصد کښې يو شان شريک وي، اِمامِ اهلِسُنَّت اعلیٰ حضرت اِمام احمد رضا خان رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ ليکلي دي: رشوت اخستل مطلقاً گناهِ کبيره ده، رشوت اخستونکے حرام خوړونکے او د دوزخ د سخت عذاب حقدار دے- د خپل ځان نه د ظلم لرې کولو د پاره يـې که د مجبورۍ پهٔ توګه ورکړي نو پهٔ دې کښې څهٔ باک نشته خو د خپل حق اخستو د پاره ورکول حرام دے او اخستونکے او ورکوونکے دواړه دوزخيان دي- د بل چا د حق خوړلو يا د بل قِسمه ظلم کولو د پاره که يـې ورکړي نو ډېر سخت حرام او د الله پاک د سختې ناراضتيا او اِنتقام حقدار دے- (فتاویٰ رضویه، جلد 18 ص 470 بتسهيل)

﴿30﴾

## د مسلمان د عزت بچ کولو فضیلت

قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ رَدَّ عَنْ عِرْضِ أَخِيْهِ الْمُسْلِمِ كَانَ حَقًّا عَلَى اللّٰهِ أَنْ يَرُدَّ عَنْهُ نَارَ جَهَنَّمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ.

د اخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: ”چا چې د خپل (مسلمان) ورور عزت بچ کړو اللّٰه پاک به د قیامت په ورځ هغه د وور نه بچ کړي۔“ (مسند احمد بن حنبل، 428/10، حدیث:27606)

﴿31﴾

## د غريبۍ رُوحاني عِلاج

«عَلِيُّ بْنُ اَبِيْ طَالِبٍ كَرَّمَ اللهُ وَجْهَهُ قَالَ :قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَالَ فِيْ كُلِّ يَوْمٍ مِائَةَ مَرَّةٍ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ الْمُبِيْنُ كَانَ لَهُ أَمَانًا مِنَ الْفَقْرِ وَأُنْساً فِيْ وَحْشَةِ الْقُبُوْرِ وَفُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ»

د اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: ”چا چې روزانه 100 کرته: لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ الْمَلِكُ الْحَقُّ الْمُبِيْن، ولوستل هغه به په دُنيا کښې د مُحتاجۍ (يعنې غريبۍ او تنګدستۍ) نه بچ وي، هغهٔ له به په قبر کښې وِېره نهٔ وي او د هغهٔ د پاره به د جَنَّت دروازې پرانستے کيږي-“ (شرح الصدور (اردو)، ص285)

(شرح الصدور بشرح حال الموتی والقبور، ص158)

﴿32﴾

## د 75 زره فرښتو سورے

مَنۡ مَشٰی فِیۡ حَاجَةِ أَخِیۡهِ الۡمُسۡلِمِ أَظَلَّهُ اللهُ تَعَالٰی بِخَمۡسَةٍ وَسَبۡعِیۡنَ أَلۡفَ مَلَكٍ یَدۡعُوۡنَ لَهُ، وَلَمۡ یَزَلۡ یَخُوۡضُ فِی الرَّحۡمَةِ حَتّٰی یَفۡرُغَ، فَإِذَا فَرَغَ كَتَبَ اللهُ لَهُ حَجَّةً وَعُمۡرَةً.

د اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: کوم ګس چې د مسلمان وررور ضرورت پوره کولو د پاره لاړ شي الله پاک د 75 زره فرښتو په ذريعه په هغهٔ باندې سورے فرمائي کومې چې د هغهٔ د پاره دعاګانې کوي، هغه د فارغېدو پورې په رحمت کښې پټ وي او کله چې فارغ شي نو الله پاک د هغهٔ د پاره د حج او د عمرې ثواب ليکي- (معجم اوسط، 222/3، حديث:4396)

﴿33﴾

## د قُربانۍ ثواب

قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ ضَحَّى طَيِّبَةً بِهَا نَفْسُهُ، مُحْتَسِبًا لِأُضْحِيَّتِهِ؛ كَانَتْ لَهُ حِجَابًا مِنَ النَّارِ»

د اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: ”چا چې پۀ خوشحالۍ سره د ثواب پۀ طلب کښې قرباني اوکړه هغه به د دوزخ د وور نه حِجاب (پرده ) شي- (معجم کبیر، 84/3، حدیث: 2736)

﴿34﴾

## د نـمونځ ګزاره کلمه نصيب کيږي

فَمَنْ كَانَ يُحَافِظُ عَلَى الصَّلَوَاتِ دَنَا مِنْهُ الْمَلَكُ وَدَفَعَ عَنْهُ الشَّيْطَانَ، وَيُلَقِّنُهُ الْمَلَكُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَسُوْلُ اللهِ، وَذَلِكَ الْحَالُ الْعَظِيْمُ.

د اخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: ''څوک چې د نـمونځ پابند وي د مرګ په وخت فرښته خوا له ورځي او د هغهٔ نه شيطان لرې زغلوي او هغهٔ ته کلمهٔ طيبه وائي-'' (معجم کبير، 220/4، حديث: 4188)

﴿35﴾

## د بخښنې ذريعه

اِنَّ مِنْ مُوْجِبَاتِ الْمَغْفِرَةِ بَذْلُ السَّلَامِ، وَحُسْنُ الْكَلَامِ

د اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: سلام عام کول او ښې خبرې کول د بخښنې سبب دي- (معجم کبیر، 180/22، حدیث: 469)

﴾36﴿

## د مور او پلار په خِدمت کښې جَنَّت دے

فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَلَكَ وَالِدَانِ» قُلْتُ: نَعَمْ، قَالَ: «اِلْزَمْهُمَا فَإِنَّ الْجَنَّةَ تَحْتَ أَرْجُلِهِمَا»

د اخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمفرمان مبارک دے: ”د مور پلار (خِدمت) لازم ونيسئ ولې چې جَنَّت د دوئي د ښپو د لاندې دے-“

(معجم کبير، 289/2، حديث:2202)

﴾37﴿

## د ښهٔ نيت ثواب

اَلنِّيَّةُ الْحَسَنَةُ تُدْخِلُ صَاحِبَهَا الْجَنَّةَ.

د اخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: ښهٔ نيت به بنده جَنَّت ته داخلوي- (ثواب بڑھانے کے نسخے، ص 1)(فردوس الاخبار 2/377، حدیث:7146)

﴿38﴾

## د خپلوانو سره رشته پالنه

لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَاطِعُ رَحِمٍ

د اخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: ”خپلولي پرېښودونکے (يعني د خپلوانو سره رشتې ماتولو) والا به جَنَّت ته نۀ ځي-“

(مسلم، ص1062، حدیث:6520)

د حديث شرح: د اهلِ سُنَّت پۀ نزد د دې معنیٰ دا ده چې که الله پاک پۀ هغۀ باندې دا وعيد نافذ کړو نو هغه به جَنَّت ته نۀ داخلېږي ځکه چې د نافرمانه مسلمانانو پۀ باره کښې د الله پاک د وعيدونو متعلق د اهلِسُنَّت اِجماع ده چې الله پاک وغواړي نو هغۀ له به عذاب ورکړي او که وغواړي نو هغه به معاف کړي د هغۀ اِختيار دے- (شرح صحيح البخارى لابن بطال، 203/9)

﴿39﴾

## اَلدَّیۡنُ شَیۡنُ الدِّیۡنِ

(مسندالشهاب، 53/1، حديث:31)

د اخري نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: "قرض د دين عيب دے۔"

**د حديث شرح:** ځکه چې په دې کښې في الحال ذِلت او په مستقبل کښې د وعده خلافۍ خطره ده۔" (مرقاةالمفاتيح،752/2)

﴿40﴾

مَنْ نَظَرَ إِلَى أَخِيْهِ نَظْرَةً لَيْسَ فِيْ قَلْبِهِ أَوْ صَدْرِهِ حِنَّةٌ لَمْ يَرْجِعْ إِلَيْهِ طَرْفُهُ حَتَّى يَغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمَا مَا مَضَى مِنْ ذُنُوْبِهِمَا (شعب الايمان، 5/270، حديث:6624)

د اخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې خپل مسلمان وړور ته د محبت نه پهٔ ډک نظر وګوري او د هغهٔ په زړهٔ کښې دښمني نهٔ وي نو د نظر واپس کېدو نه مخکښې به د دواړو مخکښيني وروستني ګناهونه وبخښلے شي-

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

د راتلونکې هفتې رساله




فیضان مدینه محله سوداګران زړه سبزي منډۍ کراچي
+92 21 111 25 26 92   0313-1139278
www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net